آریانه

71
شماره

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل -افغانستان

د افغانستان اسلامي امارت، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي ریاست، د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز

د تأسیس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 میلادي | د چاپ نېټه: ذوالحجة الحرام ۲۵، کال ۱۴۴۶ هجري قمري

نخستین گروه زائران افغان از عربستان سعودی به کابل بازگشت

وزارت ارشاد، حج و اوقاف اعلام کرده است که نخستین گروه زائران به تعداد ۳۴۶ تن پس از ادای مناسک حج به کابل برگشتند...

۵

د ترکیې سفیر د سوداګرۍ وزارت سرپرست ته د ایکو په غونډه کې د ګډون بلنه ورکړه

په کابل کې د ترکیې سفیر د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست محترم الحاج نورالدین عزیزي ته بلنه ورکړه، چې د اقتصادي همکاریو ټولنې (ایکو) په غونډه کې ګډون وکړي...

۵

دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر چین

۵

د افغانستان له فضایي حریم څخه عبوري الوتنې زیاتې شوې دي

د ترانسپورټ او هوایي چلند وزارت ویاند وایي؛ د افغانستان فضا اوس تر ټولو امنه ده او ټول ملکي نړیوال هوایي شرکتونه کولی شي له دې فضا څخه کټه پورته کړي...

۵

بسم الله الرحمن الرحیم

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د جهادي مدارسو د مسئولینو لپاره په جوړ شوي یوه ورځنۍ سیمینار کې ګډون او وینا وکړه

۶

محترم رئیس الوزرا: امن او شرعي نظام د الله تعالی یو لوی نعمت دی او باید په قدر یې پوه شو

۵

د کابینې دوه ویشتمې غونډې د سیندونو د حریم ټاکلو او سیلانیانو ته د چوپړتیاوو وړاندې کولو اړوند بحث وکړ

۲

معاون اداری ریاست الوزراء جهت سفر رسمی عازم چین شد

۵

د آمو دریا د تېلو ساحې قرارداد له قراردادي شرکت سره لغوه شو

۵

اظهارات سخنگوی امارت اسلامی افغانستان در محکومیت حملات رژیم صهیونیستی علیه جمهوری اسلامی ایران

۵

د رسنیو اسلامي او ملي مسئولیت

رسنۍ د ټولنې د یوې اساسي ستنې په توګه، د پوهاوي ورکولو، ملي پیوستون د ترویج او د انساني او فرهنګي ارزښتونو د پیاوړتیا برخه کې لوی ملي مسئولیت لري. هغوی باید د صداقت، بېطرفۍ او مسئولیت منني اصولو ته په پام، د عامه اذهانو د روښانولو برخه کې خپل رول ادا او د تفرقه اچوونکو، ناسمو، ملي او ديني ارزښتونو سره په ټکر کې معلوماتو له خپرولو څخه ډډه وکړي.

همداراز، رسنۍ دا مکلفیت هم لري چې د هېواد د ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي ننګونو په اړه، د رغوونکو تحلیلونو او واقعي حلارو په وړاندې کولو سره، د پرمختګ، سولې او ثبات لپاره هڅې وکړي او د خلکو غږ په نښه ډول تر مسئولینو پورې ورسوي.

مولوي نعیم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز رئیس

عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی): زمور او ستاسو مشترک مسئولیت جوړېږي چې د موجوده فرصت څخه ښه استفاده وکړو، د شرعي نظام د پرمختګ او کامیابۍ لپاره لا ډېرې هڅې او کوښښونه وکړو، او خپل اتفاق او اتحاد لا نور تقویه کړو!

د نېکمرغه لوی اختر د رارسېدو په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده صاحب حفظه الله تعالی د مبارکۍ پیغام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

الله أكبر الله أكبر، لا إله إلا الله والله أكبر، الله أكبر ولله الحمد الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

اما بعد: فقد قال الله تبارک وتعالی:

قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَ نُسُکِیْ وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۶۲﴾[سورة الأنعام]

ترجمه: ووایه(ای محمده)دوی ته بېشکه لمونځ زما او قرباني زما او (طاعتونه د) ژوندون زما او مرګ زما (پر صالح عمل) خاص الله لره دی چې رب (پالونکی) د ټولو عالمیانو (د جهان)دی [کابلی تفسیر]

وَ اَتِمُّوا الْحَجَّ وَ الْعُمْرَةَ لِلّٰهِ... وَ اتَّقُوا اللّٰهَ وَ اعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِیْدُ الْعِقَابِ﴿۱۹۶﴾ [سُورَةُ البَقَرَة]

ترجمه: او پوره اداکړئ حج او عمره خاص الله جل جلاله لره .... او وېرېږئ له الله جل جلاله څخه ، او پوهه شئ چې بېشکه الله جل جلاله ډېر سخت عذاب ورکوونکی دی . [کابلی تفسیر]

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضی الله تعالی عنه قَالَ : ضَحَّى رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وسَمَّى وَكَبَّرَ قال: رَأَيْتُهُ وَاضِعًا قَدَمَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا وَيَقُولُ بسم الله والله اكبر، متفق عليه.

ترجمه: له حضرت انس رضی‌الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوو ښکرونو والا پسونو (چې د هغه ښکرونه اوږده وه یا دا چې ښکرونه یې مات نه و) او کمر (برک یعنی د تور او سپین رنګ وو) قرباني وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم بسم الله، الله اکبر ویلو سره په خپل لاس (مبارک) سره هغه ذبح کړل، حضرت انس رضی الله عنه فرمایي چې ما ولیدل چې رسول الله -صلی الله علیه وسلم- د هغه په اړخ یا په غاړه باندې پښه (مبارکه) ایښې وه او بسم الله، الله اکبر یې ویل. [بخاري او مسلم]

خلاصه داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دوه برګو او ښکرورو پسونو سره قرباني وکړه، هغه یې په خپل لاس ذبح کړل، بسم الله یې وویله او تکبیر یې ووایه او خپله پښه یې د هغو په اړخو ایښې وه.

عَنْ عَائِشَةَ رضی الله تعالی عنها أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « مَا عَمِلَ آدَمِيٌّ مِنْ عَمَلٍ يَوْمَ النَّحْرِ أَحَبَّ إِلَى اللَّهِ مِنْ إِهْرَاقِ الدَّمِ إِنَّهَا لَتَأْتِى يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقُرُونِهَا وَأَشْعَارِهَا وَأَظْلاَفِهَا وَإِنَّ الدَّمَ لَيَقَعُ مِنَ اللَّهِ بِمَكَانٍ قَبْلَ أَنْ يَقَعَ مِنَ الأَرْضِ فَطِيبُوا بِهَا نَفْسًا» [مشكوة المصابيح]

ترجمه: بي بي عائشه رضی الله تعالی عنها فرمایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

د ابن ادم د نحر (د قرباني کولو د ورځې) داسې هېڅ عمل نشته چې د الله جل جلاله په نزد د وینې ږهولو (قرباني) کولو څخه زیات محبوب وي، او (د قربانۍ) هغه ذبح شوی حیوان به د قیامت په ورځ د خپلو ښکرونو، وېښتانو، نوکونو (ښنکریو) سره راشي او د قربانۍ وینه مخکې د دې څخه چې په ځمکه توی شي (یعنی د ذبح کولو د ارادې په وخت) په بارګاه الهي کې قبلیږي نو تاسو د دې په وجه (یعنی قربانۍ کولو سره) خپل نفس خوشحاله کړئ.

خپلو ټولو مؤمنو مجاهدو افغانانو او مسلمانانو ورونو ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

و بعد: تاسو ټولو ته د هر څه له مخه د لوی اختر مبارکي وایم، الله تعالی مو عبادتونه، قربانی، حجونه، خیراتونه او نور نېک عملونه قبول کړه.

دا چې د عبادت او قربانۍ دغه ورځې په داسې حال کې لمانځو چې د شرعي نظام او سرتاسري امن څخه د الله تعالی په نصرت، د اسلامي امارت، د شهیدانو او معلولینو د قربانیو او د مسلمانانو د دعاوو په سبب برخمن یوو، نو پکار دی چې ټول د الله تعالی شکر اداء کړو.

محترمو ورونو! اوس زمور او ستاسو مشترک مسئولیت جوړېږي چې د موجوده فرصت څخه ښه استفاده وکړو، د شرعي نظام د پرمختګ او کامیابۍ لپاره لا ډېرې هڅې او کوښښونه وکړو، خپل اتفاق او اتحاد لا نور تقویه کړو او هر مسئول خپل مسئولیت ته متوجه شي، غفلت ونه کړي، خپل وظائف پر خپل وخت سر ته ورسوي، یو د بل سره همغږي وکړي، یو د بل په کارونو کې مداخله ونه کړي او پوره کوښښ وکړي چې شریعت اول پر خپل ځان او بیا پر نورو تطبیق کړي.

علماء کرام زمور په ټولنه کې تر ټولو ستر مسئولیت لري، الله تعالی د دوی په حق کې فرمایلي دي: وَ اِذْ اَخَذَ اللّٰهُ مِیْثَاقَ الَّذِیْنَ اُوْتُوا الْکِتٰبَ لَتُبَیِّنُنَّهٗ لِلنَّاسِ وَ لَا تَکْتُمُوْنَهٗ فَنَبَذُوْهُ وَرَآءَ ظُهُوْرِهِمْ وَ اشْتَرَوْا بِهٖ ثَمَنًا قَلِیْلًا ؕ فَبِئْسَ مَا یَشْتَرُوْنَ ﴿۱۸۷﴾ [سورة ال عمران]

ترجمه : او (یاد کړه) هغه وخت چې واخیست الله عهد محکم له هغو کسانو څې چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب چې خامخا به بیانوئ تاسي هرومرو (خامخا) دا (کتاب) خلقو ته او نه به یې پټوئ تاسې نو وغورځاوه دوی دا (کتاب) وروسته له شاوو خپلو او وایي خیست په (عوض د) دې (کتاب) قېمت لږ نو بد اخیستل د دوی (دغه اخیستل) دي (یا نو څومره بد دی) هغه شی چې دوی یې پیرلي (اخلي).

تفسیر: یعنی د اهل الکتاب له علماوو څې عهد اخیستی شوی و هغه احکام او بشارتونه چې په کتاب الله کښې دي ښایي هغه په خورا ښه ډول نورو خلکو ته ور وښیئ او هېڅ یوه خبره مه ترې پټوئ او مه اړول راړول پکښې کوئ او مه یې معناګاني بدلوئ، مګر دوی هېڅ زمور د دې امرونو پروا ونه کړه او د لږې کټې له امله یې هغه ټول عهدونه اوپیمانونه مات اوشرعي حکمونه یې بدل او د الله تعالی په آیتونو کښې یې لفظي اومعنوي تحریفات وکړل. د هغه شي ښکارول چې ډیر زیات ضروري و یعنی د نبي کریم صلی الله علیه وسلم بشارت یې بیخي پټ کړ هغو مره چې دوی د مال په صرفولو کښې بخل کوي، د علم په ښودلو کښې هم له بخل څخې کار اخلي د دې بخیلي منشاء هم د مال اوجاه او د دنیوي متاع له مینې څخې پرته بل شی نه و. دلته یې ضمنا زمور د اسلام علماوو ته هم تنبیه فرمایله چې تاسئ د دنیا په مینه کښې اخته شوی، هسې مه کوئ (بلکې په هر وخت، هرځای او د هر چا په مقابل کښې امر بالمعروف اونهی عن المنکر کوئ او هېڅکله او هېڅېږي شرعي احکام له خلکو مه پټوئ، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمایلي دي: هر چا چې پټ کړ علم له اهل د علم څخه قیزه به شي په قیزه داور سره).[کابلی تفسیر]

همدادول متنفذین او د خلکو مشران مسئولیت لري، چې په خپل استقامت سره د الله ﷻ شرعي حکمونه په جامعه کې نافذ کړي، د خلکو حقوق خپلو حقدارانو ته ورسوي او هر شی په خپل ځای کې کښېږدي؛ ځکه که دوی له دین څخه کاږه شي دا ټول شرعي نظام او امن به له منځه ولاړ شي.

د زینب په نوم یوې ښځې چې د احمس قبیلې وه د ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه څخه پوښتنه وکړه:

قَالَتْ مَا بَقَاؤُنَا عَلَى هَذَا الأَمْرِ الصَّالِحِ الَّذِي جَاءَ اللَّهُ بِهِ بَعْدَ الْجَاهِلِيَّةِ قَالَ بَقَاؤُكُمْ عَلَيْهِ مَا اسْتَقَامَتْ بِكُمْ أَئِمَّتُكُمْ قَالَتْ وَمَا الأَئِمَّةُ قَالَ أَمَا كَانَ لِقَوْمِكِ رُؤُوسٌ وَأَشْرَافٌ يَأْمُرُونَهُمْ فَيُطِيعُونَهُمْ قَالَتْ بَلَى قَالَ فَهُمْ أُولَئِكَ عَلَى النَّاسِ. رواه البخاري

هغې وویل: " زمور پاته کیدل به په دې ښه شي (اسلام) کې چې الله ﷻ د جاهلیت وروسته مور ته راپه برخه کړ؛ ترکومه وخته وي؟ هغه وویل: ستاسو پاته کیدل به په دې ښه شي(اسلام) کې تر هغه وخته وي تر څو پورې چې ستاسو امامان د اسلام سره مخلص وي.

هغې وویل: " امامان څوک دي؟" ده ورته وویل ایا ستا د قوم لپاره سرداران او اشراف خلك نشته چې خلك د دوی د حکم اطاعت کوي؟ هغې وویل: "هو شته"، ده ورته وویل: همدا د خلکو امامان دي، (که دغه امامان پر اسلام او شریعت باندې برابر وو ټول خلك به برابر وي او که دوی شریعت پرېښود، خلک به یې هم پرېږدي او د ټولې بدبختۍ مسئولیت به د دغو مشرانو پر غاړه وي.)

نو ځکه باید زمور مشران او مخور د خپل شرعي نظام، خلکو او وطن په کټه دریځ ولري، په خپلو تحلیلونو، خېرنو، ویناوو، لیکنو او توصیو کې د خلکو ښه ذهن سازي وکړي، په ټولنه کې د اتفاق او وحدت ساتلو او د فتنو او فساد د مخنیوي لپاره جدي مبارزه وکړي، ځکه دوی ته خلک غوږ نیسي، د دوی نظریات د ټولنې په متوجه کولو کې رول لري او دا د دین تر ټولو لوی خدمت دی.

د اسلامي امارت د محاکمو ټولو قضاتو او مسؤلینو ته لارښوونه کېږي چې خپل درانه مسئولیت ته په کتو د خلکو د حقه حقوقو په ترلاسه کولو او د منازعاتو د حل په برخه کې له پخوا ډېر جدي و اوسي او په قضاوت کې د قوي کس او ضعیف تر مینځ توپیر ونه کړي، له هر چا سره عدالت او مساوي چلند وکړي، د الله سبحانه و تعالی په حدودو کې دې د مجرم شخصیت ته نه کوري؛ بلکې جرم ته دې وکوري، د مظلوم دفاع دې وکړي، د ظالم مخنیوی دې وکړي او د خلکو د قضیو په حل کې دې له ځنډ او خنډ څخه پرته کوښښ وکړي.

زمور د مجاهدینو د جهادونو او قربانیو ستر هدف په واقعي بڼه د شرعي نظام تطبیق او په ټولنه کې د شرعي احکامو اجرا وه، دا ستر هدف د محاکمو تر فعالیتونو او ښه خدمت پورې اړه لري.

د ارشاد، حج او اوقافو، امربالمعروف او نهی عن المنکر، پوهنې او لورو زده کړو وزارتونه هم باید ډېر کوښښ وکړي چې د علماء کرامو او متنفذینو سره یو ځای د خلکو د دعوت، نېکو اعمالو د ترویج او د خپلو مسئولیتونو په دایره کې د شرعي نظام لور ته د خلکو بلنې کار کړندی کړي او په دې برخه کې خپل ټول توان وکاروي.

زمور تجاران او صنعتکاران ورونه باید د وطن د آبادۍ لپاره لا ډېر کوښښ وکړي ترڅو زمور وطن خودکفا شي او د نورو له احتیاجه وژغورل شي، که مور د استقلال او آزادۍ ساتنه او د هر ډول تهدید په وړاندې درېدل غواړو، نو په اوس زمانه کې دا شیان ټول په امکاناتو او اقتصاد پورې اړه لري او د اقتصاد تقویه بیا د تجارت او صنعت تر ودې پورې اړه لري، راځئ په کډه د خپل کور د جوړېدو او په پښو درېدو په کار کې ونډه واخلو.

د اسلامي امارت اړوند اقتصادي ارګانونه هم باید د خپلو تاجرانو او صنعتکارانو لا ډېر حمایت وکړي، هغوی ته ښه زمینه مساعده کړي او د پرمختګ سره یې مرسته وکړي.

د اسلامي امارت د مهاجرینو وزارت او نور مربوطه ارګانونه همدا ډول په ولایاتو کې والیان ټول باید د راستنېدونکو مهاجرینو ښه خدمت وکړي، هغوی ځای پرځای کړي او د حمل او نقل په برخه کې تر وسه وسه همکاري ورسره وکړي.

د اسلامي امارت ټول امنیتي او ملکي کارکوونکي باید خپلو خپلو کارونو ته ښه او جدي متوجه وي، د یو بل په کارونو کې له مداخلې څخه ځانونه وساتي؛ ځکه داسې کول د کډوډۍ، بې اعتمادۍ او خپکان سبب کرځي، همدا راز د خلکو خدمت کول عبادت دی، مور تاسو ته چې الله تعالی د خلکو مسئولیت را په غاړه کړی دی، دا یو الهي امتحان دی، باید چې ډېره توجه وکړو، خلکوته د خدمت په لاره کې غفلت رانه ونه شي؛ ځکه غفلت عذر نه دی، باید ډېر بیداره واوسئ، د خلکو لپاره کارونه اسانه کړئ، سختی مه کوئ، سهولت کوئ، الله تعالی به پر تاسو آساني وکړي، د خلکو وخت مه ضایع کوئ، د خلکو پر مخ دروازې مه تړئ، د خلکو سره وخت په وخت لیده کاته کوئ، د هغوی شکایت او غږ اورئ، ترڅو څوک د چا حق ونه خوري، څوک چاته ضرر ونه رسوي، او هر څوک خپل خپل حق ترلاسه کړي.

نظام د خلکو د پلار او متکفل حیثیت لري، باید د یوه پلار په ډېر د خلکو خیال وساتي، د حقوقو یې ساتنه وکړي او د امانتونو څخه یې څارنه او مراقبت وکړي.

په روایت کې راځي:

عن أبي الشماخ الأزدي، عن ابن عم له من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم، أتى معاوية فدخل عليه، فقال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: " مَنْ وَلِيَ أَمْرًا مِنْ أَمْرِ النَّاسِ ثُمَّ أَغْلَقَ بَابَهُ دُونَ الْمِسْكِينِ وَالْمَظْلُومِ أَوْ ذِي الْحَاجَةِ، أَغْلَقَ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى دُونَهُ أَبْوَابَ رَحْمَتِهِ عِنْدَ حَاجَتِهِ وَفَقْرِهِ أَفْقَرَ مَا يَكُونُ إِلَيْهَا" [أخرجه أحمد].

ترجمه: ابو الشماخ الأزدي رحمه الله تعالی د خپل تره له زوی څخه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابي (رضی الله تعالی عنه) دی روایت کوي چې هغه معاویه رضی الله تعالی عنه ته ورغی او ورته ویې ویل، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي: چاته چې د مسلمانانو په چارو کې کوم کار وسپارل شي بیا یې خپله دروازه د مسکین، مظلوم او ارمن کس پر مخ وتړله، الله تعالی به د هغه پر مخ د هغه د حاجت او فقر پر مهال د خپل رحمت دروازې وتړي، داسې مهال چې هغه به د الله تعالی رحمت ته تر هر وخت ډېره اړتیا لري.

د امیر د فرمانونو او حکمونو اطاعت وکړئ؛ ځکه اطاعت لازم او واجب دی، باید ټول یې مراعات کړي او ټول د اطاعت په چوکاټ کې پر مخ لاړ شي.

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه فرمایلي دي : إنه لا إسلام إلا بجماعة ، ولا جماعة إلا بإمارة ، ولا إمارة إلا بطاعة. [رواه عنه الدارمي.]

ترجمه: نشته اسلام مګر په یوه ټولنه او یو اتفاق سره، نشته جماعت او اتفاق مګر په امارت سره نشته امارت مګر په اطاعت سره.

د مدرسو طالب العلمان، د پوهنتونو محصلین او د مکاتبو زده کوونکي ټول باید خپلو خپلو درسونو او مسئولیتونو ته متوجه شي، د استاذانو، کتابونو او علم احترام وساتي او د ورته مهیا شوي فرصت قدر وکړي او ښه استفاده ترې وکړي.

کورئ! وخت په عبثو شیانو ضایع نه کړئ، هرشی چې د وخت د ضایع کېدو سبب کرځي، باید سخت پرهېز ورڅخه وکړئ او خپل اصلي مقصود ته متوجه شئ.

الله تعالی فرمایلي دي: وَ الَّذِیْنَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُوْنَ ﴿۳﴾[سورة المؤمنون]

ترجمه: او هغه (کسان هم بهرمند شول) چې دوی له ناکاره کارو (بدو اقوالو او بدو افعالو) څخه مخ ګرځوي. (یعنی په فضولو او بېکاره مشاغلو کې خپل وخت نه ضایع کوي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: من حسن اسلام المرء تركه ما لا يعنيه. [رواه الترمذي]

ترجمه: د یوه انسان د ښه اسلام له نښو دا ده چې هغه کارونه پرېږدي چې ده ته کټه نه رسوي.

راتلونکي نسلونه به ستاسو پوهې او تجربو ته محتاج وي، نو باید ځانونه ډېر ور او پوه خلک جوړ کړئ، باید ډېر کوښښ او توجه وکړئ چې ښه علمي شخصیتونه او کډرونه درڅخه جوړ شي ترڅو د اسلام، اسلامي نظام او خلکو ښه خدمت وکړای شئ.

سږ کال بیا هم له افغانستان څخه تر ډېرش زره پورې حاجیان د حج د سترې فریضې د اداء کولو لپاره بیت الله شریف ته تللي، له هغوی او حرمینو شریفینو ته د نړۍ له کوټ کوټ څخه ټولو راغلیو حجاجو کرامو څخه هیله کوم چې مور او ټول اسلامي امت ته دعاګانې وکړي.

د فلسطین په غزه او نورو سیمو کې په مېرمنو، ماشومانو او مظلومو مسلمانانو د صهیونستانو بریدونه او ظلمونه لا هم روان دي، دا لوی انساني جنایت او سخت ظلم دی، اسلامي امارت د فلسطین له مظلومو خلکو څخه یوځل بیا خپل حمایت اعلانوي، د فلسطین پر خلکو هر ډول ظلم او زور زیاتی په کلکه غندي او د عاجل بندېدو غوښتنه یې کوي.

په پای کې یو ځل بیا ټولو مسلمانانو ته د لوی اختر مبارکي وایم. الله تعالی مو عبادات، قربانۍ او حجونه قبول وکړځوه او تل خوشحاله او سوکاله اوسئ. والسلام

امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده

۷/۱۲/۱۴۴۶ هـ.ق

۱۴/۳/۱۴۰۴هـ.ش. 2025/6/4م

د کابینې دوه ویشتمې غونډې د سیندونو د حریم ټاکلو او سیلانیانو ته د چوپړتیاوو...

...د افغانستان اسلامي امارت د کابینې دوه ویشتمه غونډه د محترم رئیس الوزراء الحاج ملا محمدحسن اخند په مشرۍ ترسره شوه.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه، د هیواد په مهمو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي مسائلو په کې بحث او پریکړې وشوې.

غونډه کې د سیندونو د حریم، سرسبزۍ او دې سیمو ته د ورتلونکو سیلانیانو لپاره د خدمتونو وړاندې کولو اړوند بحث ترسره شو چې ټاکلي پلاوي ته دنده وسپارل شوه؛ ترڅو اړوند ادارات مکلف کړي چې په خپله برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي.

د یادونې ور ده چې د کابینې یاده غونډه د ګڼو موضوعاتو په اړه له تفصیلي بحث او پریکړو وروسته د خیر دعاء سره پایته ورسېده.#

Issue #71

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foriegn Affairs, Kabul, Afghanistan

Deputy Prime Minister Departs for Official Visit to China

Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, departed for the People's Republic of China leading a high-level delegation of the Islamic Emirate. The visit comes in response to an official invitation from the Chinese government and is aimed at participating in the 9th China–South Asia Expo and Forum.

The delegation includes key government officials, notably Nooruddin Azizi, Acting Minister of Industry and Commerce, and Dr. Mohammad Naeem Wardak, Deputy Minister for Finance and Administration at the Ministry of Foreign Affairs.

During the visit, in addition to attending and delivering remarks at the 9th China–South Asia Expo and Forum, Mawlawi Abdul Salam Hanafi is scheduled to hold bilateral meetings with senior officials of the People's Republic of China. Discussions will focus on enhancing cooperation and expanding relations between the two countries across a broad range of sectors. #

Significant Increase in Overflight Traffic Through Afghanistan's Airspace



The Ministry of Transport and Civil Aviation has affirmed that Afghanistan's airspace is currently among the safest in the region, enabling all international commercial airlines to operate transit flights seamlessly.

Spokesperson Hikmatullah Asfi confirmed that 27 airports nationwide—including five international airports—are fully operational, with routine domestic and international flights conducted daily.

Private sector stakeholders underscore the economic importance of...ContP#4

Contract for Amu Darya Oil Field Officially Terminated Due to Contractor's Non-Compliance

The exploration and extraction agreement for the Amu Darya oil field—originally signed for a 25-year term between the Ministry of Mines and Petroleum and Afchin Company—has been formally terminated due to the contractor's repeated breaches of its contractual obligations.

According to an official statement from the Ministry of Mines and Petroleum, joint committees comprising representatives from relevant ministries and agencies were established to review the matter. Following a thorough investigation, the committees concluded that Afchin Company had failed to fulfill the commitments outlined in the agreement and was in violation of multiple provisions...ContP#4

Strengthening Bilateral Ties: Deputy PM Meets with Chinese Ambassador to Discuss Economic Cooperation and Investment Opportunities

Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs, met with Mr. Zhao Xing, Ambassador of the People's Republic of China to Afghanistan, along with his accompanying delegation.

During the meeting, Ambassador Zhao highlighted the longstanding and cordial relations between Afghanistan and China, noting that the two nations have historically maintained strong and friendly ties. He emphasized that Chinese companies are keen to invest in Afghanistan.

The Ambassador reaffirmed that work on the Mes Aynak copper extraction project is set to commence in the near future, describing it as a significant initiative that will contribute to the economic development of both countries. He expressed China's commitment to enhancing bilateral economic and trade relations through joint efforts.

Ambassador Zhao also expressed optimism that the upcoming visit of a high-level delegation from the Islamic Emirate to China would yield meaningful outcomes...ContP#4

Acting Minister of Industry and Commerce Engages with Uzbek President to Strengthen Bilateral Economic Cooperation

Nooruddin Azizi, Acting Minister of Industry and Commerce of the Islamic Emirate of Afghanistan, held a bilateral meeting with His Excellency President Shavkat Mirziyoyev of the Republic of Uzbekistan on the sidelines of the 4th International Investment Conference to discuss avenues for expanding mutual cooperation.

An official statement from the...ContP#4

22nd Cabinet Meeting Addresses River Zone Regulation and Enhancement of Tourist Services

The 22nd meeting of the Cabinet of the Islamic Emirate of Afghanistan, chaired by Honorable Prime Minister Mullah Mohammad Hassan Akhund, convened to deliberate on critical national matters across economic, social, and cultural sectors.

The meeting commenced with the recitation of the Holy Quran and...ContP#4

Turkish Ambassador Extends Invitation to Acting Minister of Commerce to Participate in ECO Summit

The Ambassador of the Republic of Turkey in Kabul formally invited Nooruddin Azizi, Acting Minister of Industry and Commerce, to attend the forthcoming Economic Cooperation Organization (ECO) Summit and to deliver remarks representing the Islamic Emirate of Afghanistan.

The ECO Summit is scheduled to be hosted by Turkey at the end of June this year.

During the meeting, in addition to extending the official invitation, both parties engaged in a constructive dialogue aimed at enhancing and expanding bilateral...ContP#4

Significant Increase in Overflight Traffic Through Afghanistan's...



...international overflights traversing Afghanistan's airspace and emphasize the necessity for the Ministry of Transport to enhance and expand its service delivery to sustain and increase this overflight activity.
Economic analysts likewise highlight that the expansion of international overflights is crucial for Afghanistan's economic growth. They advocate for the government to implement comprehensive measures to improve services offered to international carriers, thereby ensuring sustained growth in transit flight operations. It is widely recognized that increased overflight traffic by international airlines can have a positive impact on national revenue streams, contributing to the country's broader economic development. #

First Cohort of Afghan Pilgrims Returns to Kabul from Saudi Arabia



The Ministry of Guidance, Hajj, and Religious Affairs has officially announced the return of the initial group of 346 Afghan pilgrims to Kabul following the completion of their Hajj rites.
This year, nearly 30,000 Afghan nationals undertook the pilgrimage to Saudi Arabia.
According to the Ministry's statement, the returning pilgrims primarily hail from Kabul and Laghman provinces.
Furthermore, the Ministry confirmed that the repatriation process for all 30,000 Afghan pilgrims who performed Hajj this year is currently underway. #

European Union Humanitarian Aid Flight Lands in Kabul

The European Union has confirmed the arrival of a cargo aircraft carrying 100 metric tons of critical humanitarian aid to Kabul this morning.
According to an official statement posted on the EU Delegation to Afghanistan's Facebook page, this shipment comprised essential humanitarian supplies delivered to support ongoing relief efforts.
The delegation did not disclose specific details regarding the contents of the aid.
Sources indicate that since 2021, the European Union has transported a total of 2,150 metric tons of humanitarian assistance to Afghanistan via airlift operations. #

Over 13,000 Kilograms of Narcotics Destroyed in

The Anti-Narcotics Directorate of the Kandahar Police Command has announced the destruction of a total of 13,018 kilograms of various narcotic substances within the province.
The confiscated and destroyed items included opium, heroin, cannabis, alcoholic beverages, K-tablets, and chemically adulterated narcotics.
These substances were eradicated in a remote area of Daman District, according to officials.
Simultaneously, Mullah Asadullah Jamshid, spokesperson for the Kandahar Police Command, reported that 252 anti-narcotics operations were conducted across Kandahar during the previous month.
He further stated that thousands of kilograms of narcotics such as opium, cannabis, and heroin were seized during these operations.
Additionally, 52 individuals linked to narcotics offenses were apprehended, with their cases duly referred to judicial and prosecutorial bodies.
Jamshid also noted that 432 drug addicts were identified and transferred to relevant rehabilitation centers for treatment during the same period. #

Strengthening Bilateral Ties: Deputy PM Meets with Chinese Ambassador to Discuss Economic Cooperation and Investment...

...and further strengthen mutual cooperation.
In response, Mawlawi Abdul Salam Hanafi stated that the visit will include meetings with senior officials of the People's Republic of China, as well as with representatives from academic institutions and major commercial and economic enterprises.
He added that the delegation will present the achievements of the Islamic Emirate across various sectors and will reassure Chinese investors and participants of the 9th China–South Asia Expo and Forum of Afghanistan's readiness to offer favorable investment opportunities across multiple sectors. #

22nd Cabinet Meeting Addresses River Zone Regulation and Enhancement...

...proceeded with comprehensive discussions and decisions on a range of pressing issues.
Among the key topics was the regulation and protection of river zones, environmental greening, and the enhancement of service infrastructure for tourists visiting these areas. A designated committee was assigned to coordinate with relevant government agencies to ensure the implementation of necessary measures within their respective mandates.
It is noteworthy that the session concluded with prayers for collective well-being, following detailed deliberations and formal resolutions on multiple agenda items. #

Turkish Ambassador Extends Invitation to Acting Minister of Commerce to...

...economic ties between Afghanistan and Turkey.
Discussions also focused on organizing a regional trade exhibition at the Termez International Trade Center, establishing trade hubs in Kabul and Istanbul, and developing chambers of commerce in both countries to facilitate stronger commercial cooperation. #

Contract for Amu Darya Oil Field Officially Terminated Due to Contractor's...

...Consequently, based on Proposal No. 5188 dated 1/12/1446 from the Office of Economic Affairs, and in accordance with Directive No. 6856 dated 5/12/1446 issued by the Prime Minister's Office, the contract with Afchin Company has been officially annulled. #

Acting Minister of Industry and Commerce Engages with Uzbek President to Strengthen Bilateral...

...Ministry of Industry and Commerce highlighted that the discussions encompassed a wide range of sectors, including trade, economic development, transportation, logistics, energy, agriculture, and mining.
Furthermore, during the conference, Acting Minister Azizi met with Laziz Qudratov, Minister of Investment, Industry, and Trade of Uzbekistan, where both parties signed two significant agreements pertaining to preferential trade and enhanced economic cooperation.
In his keynote address at the conference held in Tashkent, President Mirziyoyev underscored the imperative of supporting Afghanistan's peaceful and sustainable development and urged the international community to prioritize this agenda.
He also emphasized the importance of continued engagement with the Islamic Emirate to prevent Afghanistan's isolation on the global stage. #

معاون اداری ریاست الوزراء جهت سفر رسمی عازم...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با آقای ژاوشینگ سفیر جمهوری مردم چین در افغانستان و هیأت همراه اش دیدار کرد.
در این دیدار سفیر چین با یادآوری از روابط دیرینه افغانستان و چین گفت که این دو کشور همواره روابط خوب و حسنه داشته اند و شرکت های چینی علاقمند سرمایه گذاری در افغانستان می باشند.
وی با تاکید بر اینکه کار استخراج پروژه مس عینک به زودی آغاز خواهد شد و پروژه موفق در راستای توسعه اقتصادی برای دو کشور خواهد بود، گفت که ما مشترکاً تلاش می کنیم تا مناسبات اقتصادی و تجارتی میان دو کشور بیشتر از پیش گسترش یابد.
سفیر جمهوری مردم چین ابراز امیدواری کرد که سفر هیأت عالی رتبه امارت اسلامی به چین، دستآوردهای خوبی در قبال داشته باشد.
در مقابل، محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء، گفت که ما طی این سفر دیدارهای با مقامات مختلف جمهوری مردم چین و همچنان نهادهای اکادمیک و کمپنی تجارتی و اقتصادی آن کشور خواهیم داشت.
وی افزود: در جریان این سفر ضمن اینکه دستآوردهای امارت اسلامی را در عرصه های مختلف تشریح خواهیم کرد، به تاجران و سرمایه گذاران چین و نمایندگان کشورهای اشتراک کننده در نهمین نمایشگاه و فورم چین - آسیای جنوبی اطمینان خواهیم داد که از فرصت های خوب سرمایه گذاری در افغانستان استفاده نموده و در بخش های مختلف سرمایه گذاری نمایند.#

نخستین گروه زائران افغان از عربستان سعودی به کابل...

...امسال حدود ۳۰ هزار زائر افغان برای ادای مناسک حج به عربستان سعودی رفته بودند.
این وزارت در خبرنامه‌ای گفته است که این زائران از ولایات کابل و لغمان هستند.
براساس خبرنامه، روند بازگشت ۳۰هزار زائر که از افغانستان برای ادای حج به عربستان سعودی رفته بودند، آغاز شده است.#

د ترکیې سفیر د سوداګرۍ وزارت سرپرست ته د ایکو په غونډه کې...

...او د افغانستان اسلامي امارت پر استازولۍ وینا وکړې.
تاکل شوې، چې د ایکو غونډه د روان کال د جون په پای کې د ترکیې په کوربتوب ترسره شي.
په خبرپاڼه کې راغلي، چې په دې لیدنه کې د محترم الحاج نورالدین عزیزي د بلغې تر څنګ دواړو خواوو د افغانستان او ترکیې ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پیاوړتیا او پراختیا په کډون په ترمڼ نړیوال سوداګریز مرکز کې د سیمه‌ییز نندارتون جوړولو، په کابل او استانبول کې د سوداګریزو مرکزونو جوړولو او په دواړو هېوادونو کې د سوداګریزو خونو د جوړولو په اړه بحث او نظرونه تبادله کړل.#

محترم رئیس الوزرا: امن او شرعي نظام د الله تعالی یو لوی نعمت دی او باید په قدر...

...د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند د لوی اختر لمونځ په ارک کې په داسې حال کې اداء کړ، چې د اسلامي امارت نورو لوړپورو مسئولینو هم حضور درلود.
د اختر په لمانځه کې د افغانستان اسلامي امارت د رئیس الوزراء تر څنګ، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخند، د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم حقاني، د ریاست الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس محترم ډاکتر ملا عبد الواسع، د کابینې یو شمېر غړو، د اسلامي امارت یو شمېر ملکي او نظامي مسئولینو او د خلکو د مختلفو اقشارو یو شمېر غړو کډون کړی وو او د لمانځه تر اداء کولو وروسته یې له یو بل سره د اختر مبارکي وکړه.
د لمانځه تر اداء کولو وراندې، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس او قاضي القضات خبرې وکړې او ټولو حاضرو علماوو، مشرانو، د کابینې غړو او د اسلامي امارت مسئولینو او د نړۍ مسلمانانو ته یې د لوی اختر مبارکي وویله او زیاته یې کړه، دنده او مسئولیت یو امانت دی او باید په سمه توګه ترسره شي او ټول باید حقوق الله او حقوق العباد مراعات کړو.
نوموري د الهي احکامو تطبیق د اسلامي نظام مسئولیت یاد کړ او زیاته یې کړه، اسلامي امارت تر اوسه پورې دغه احکام په ښه توګه تطبیق کړي دي.
وروسته د افغانستان اسلامي امارت رئیس الوزراء محترم الحاج ملا محمد حسن اخند خبرې وکړې او ټولو مسلمانانو ته یې د لوی اختر د مبارکۍ تر څنګ هیله وښوده چې د خوښۍ دغه ورځې ښې تېرې شي او زیاته یې کړه، د خوښۍ په دې ورځو کې باید پر ببوزلو کورنیو، خپلوانو او کاونډیانو شفقت او له هغوی سره مرسته او همکاري وکړو.
نوموري زیاته کړه، امن او شرعي نظام د الله تعالی یو لوی نعمت دی او باید په قدر یې پوه شو، پر علماوو لازمه ده چې د دې اسلامي نظام ساتنه او دفاع وکړي.
نوموري دېته په اشارې، چې رسنۍ د اسلامي نظام لاسته راوړنې کوچنۍ منعکسوي او ناسم قضاوت کوي وویل: باید د اسلامي نظام د مشعل خاموشه کولو اجازه ور نه کړو.
نوموري د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو لخوا پر وخت په صحیح ډول د راستنېدونکو کډوالو مدیریت او هغوی ته د اوسېدو ځایونو برابرولو ته اشاره وکړه او همداراز له خطیبانو، ملا امامانو، علماوو، مجاهدینو او نورو افغانانو څخه چې د فلسطین د ببوزلو او یې دفاع خلکو غږ یې پورته کړی، مننه وکړه.
محترم الحاج ملا محمد حسن اخند وویل: سره له دې چې ستونزې شته، باید ویښ واوسو، علماء او ټول افغانان باید د اسلامي نظام د ستنو کمزورې کولو لپاره دښمن ته موقع ور نه کړي.
د اسلامي امارت محترم رئیس الوزراء پر هغو افغانانو چې بهر ته تللي غږ وکړ چې خپل وطن ته را ستانه شي او هغوی ته به هېڅوک زیان ونه رسوي، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی لخوا عمومي عفوه اعلان شوې او بېرته خپل پلرني هیواد ته په را ګرځېدو د ارامۍ په فضا کې ژوند وکړئ.
نوموري د خپلو خبرو په پای کې ځوانانو او موټر چلوونکو ته په خطاب کې وویل، په اختر او نورو ورځو کې د موټر چلوني پر مهال احتیاط وکړي او په سرعت او چټکتیا دې خپلو ځانونو او نورو هیوادوالو ته زیان نه اړوي.
په پای کې شیخ القران والحدیث مولوي محمد فقیر د دعایې ترڅنګ د افغانستان مؤمن او مجاهد ولس ته د لوی اختر مبارکي وویله او د اسلامي نظام د استحکام او په ټوله نړۍ کې د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق لپاره یې دعا وکړه.#

د آمو دریا د تېلو ساحې قراردادي له قراردادي شرکت سره...

...د آمو دریا نفتي حوزې د اکتشاف او استخراج ترون، چې د کانونو او پټرولیم وزارت او آفچین شرکت تر منځ د ۲۵ کلونو لپاره لاسلیک شوی و؛ د قراردادي شرکت له لوري د ترون له ژمنو څخه د پر له‌پسې سرغړونو له کبله فسخه شو.
د کانونو او پټرولیم وزارت د خبرپاڼې له مخې؛ د نوموري ترون د نقض د مواردو د څېړنې لپاره له اړوند وزارتونو او ادارو څخه کډې کمېټې تاکل شوې وې او د کمېټو د کار په پایله کې وموندل شوه، چې آفچین شرکت له ترون څخه سرغړونې کړې او د ترون د ژمنو په پلي کېدا کې پاتې راغلی.
په خبرپاڼه کې راغلي؛په دې توګه؛ د اقتصادي معاونیت د ۱۴۴۶/۱۲/۱ نېټې د (۵۱۸۸) ګڼې وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام د ۱۴۴۶/۱۲/۵ نېټې د (۶۸۵۶) ګڼې حکم پربنسټ له یاد شرکت سره ترون فسخه شو.#

اظهارات سخنگوی امارت اسلامی افغانستان در محکومیت حملات رژیم صهیونیستی علیه...

...امارت اسلامی افغانستان حملات اخیر رژیم اسرائیل به خاک جمهوری اسلامی ایران و ترور فرماندهان و دانشمندان هسته‌ای را که نقض آشکار اصول بنیادین حقوق بین‌الملل، به‌ویژه حاکمیت ملی و تمامیت ارضی کشورها محسوب می‌گردد، به‌شدت محکوم می‌نماید.
این اقدام در شرایطی صورت می‌گیرد که مردم مظلوم فلسطین، به‌ویژه در نوار غزه، همچنان در معرض حملات بی‌وقفه و فاجعه‌بار قرار دارند، و رژیم اشغالگر با بی‌اعتنایی به قواعد انسانی و بین‌المللی به این روند ادامه می‌دهد.
متأسفانه، استمرار این گونه اقدامات تنش‌زا، وضعیت منطقه را بیش از پیش شکننده و نگران‌کننده ساخته‌است.
امارت اسلامی افغانستان از تمام جهت های ذیدخل می‌خواهد که با مسئولیت‌پذیری و براساس مأموریت محوله در حفظ صلح و امنیت منطقوي، به این موضوع رسیدگی کرده و مانع از گسترش ناامنی و بی‌ثباتی بیشتر در منطقه گردد.#
ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی افغانستان

دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر...

...محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با آقای ژاوشینگ سفیر جمهوری مردم چین در افغانستان و هیأت همراه اش دیدار کرد.
در این دیدار سفیر چین با یادآوری از روابط دیرینه افغانستان و چین گفت که این دو کشور همواره روابط خوب و حسنه داشته اند و شرکت های چینی علاقمند سرمایه گذاری در افغانستان می باشند.
وی با تاکید بر اینکه کار استخراج پروژه مس عینک به زودی آغاز خواهد شد و پروژه موفق در راستای توسعه اقتصادی برای دو کشور خواهد بود، گفت که ما مشترکاً تلاش می کنیم تا مناسبات اقتصادی و تجارتی میان دو کشور بیشتر از پیش گسترش یابد. سفیر جمهوری مردم چین ابراز امیدواری کرد که سفر هیأت عالی رتبه امارت اسلامی به چین، دستآوردهای خوبی در قبال داشته باشد.
در مقابل، محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء، گفت که ما طی این سفر دیدارهای با مقامات مختلف جمهوری مردم چین و همچنان نهادهای اکادمیک و کمپنی تجارتی و اقتصادی آن کشور خواهیم داشت.
وی افزود: در جریان این سفر ضمن اینکه دستآوردهای امارت اسلامی را در عرصه های مختلف تشریح خواهیم کرد، به تاجران و سرمایه گذاران چین و نمایندگان کشورهای اشتراک کننده در نهمین نمایشگاه و فورم چین - آسیای جنوبی اطمینان خواهیم داد که از فرصت های خوب سرمایه گذاری در افغانستان استفاده نموده و در بخش های مختلف سرمایه گذاری نمایند.#

د افغانستان له فضایي حریم څخه عبوري الوتنې زیاتې...

...د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت ویاند حکمت الله آصفي ډاډ څرګندوي، چې د هېواد دېنځه نړیوالو هوایي ډګرونو په ګډون ۲۷ هوایي ډګرونه فعال دی او هره ورځ نورمالې کورنۍ او بهرنۍ الوتنې ترسره کېږي.
د خصوصي سکټورغړي هم د افغانستان له هوایي حریم څخه د نړیوالو پروازونو عبور له اقتصادي پلوه افغانستان ته مهم بولي او څرګندوي، چې د دې لړۍ د دوام لپاره باید د ټرانسپورټ وزارت په خپل خدماتو کې بهتري او پراختیا رامنځته کړي.
د اقتصادي چارو ځیني کارپوهان هم د هېواد له هوایي حریم څخه د نړیوالوعبوري پروازونو پراختیا له اقتصادي پلوه د افغانستان لپاره اړینه بولي او وایي، چې افغان حکومت باید نړیوالو پروازونو ته د ښه خدماتو د وړاندې کولو لپاره خپل تدابیر پراخ کړي، چې په دوامداره توګه د پروازونو د پراختیا لامل شي.
ویل کیږي، چې د افغانستان له هوایي حریم څخه د نړیوالو شرکتونو د عبوري پروازونو پراختیا کولی شي، چې د هېواد پر ملي عوایدو هم مثبت اغېز وکړي.#

د کندز له سیمه ییزو مسئولینو او علماؤ سره د ریاست الوزراء اداري مرستیال کتنه

د ریاست الوزراء اداري مرستیال، محترم مولوي عبدالسلام حنفي د کندز ولایت قلعۀ زال ولسوالی له یو شمېر مسئولینو او علماؤ سره وکتل.
د دې کتنې په پیل کې د قلعۀ زال ولسوال محترم مولوي عبدالقدیر حمزه د نورو په استازیتوب د خبرو پر مهال د خپلو فعالیتونو او کړنو په اړه د ریاست الوزراء اداري مرستیال ته معلومات ورکړل. نوموري زیاته کړه، مجاهدین او سیمه ییز مسئولین د امنیت او ارامي تأمین او د اسلامي امارت د مشرانو د اوامرو او لارښوونو اجرا ته چمتو او تل د خلکو د ستونزو د حل هڅې کوي. وروسته محترم مفتي عبدالله خبرې وکړې او د اسلامي امارت له رهبري پې وغوښتل چې د قلعۀ زال ولسوالی د زېربنا له هغې ډلې د روغتونونو جوړولو، د بریښنا لېږد او د سړکونو ترمیم ته ځانګړې پاملرنه وکړي.
د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي د دوی د خبرو له اوربدو وروسته په ټینګار وویل، سیمه ییز مسئولین دې د خپلو دندو په ترسره کولو کې کوتاهي نه کوي او د خلکو د ستونزو د حل لپاره دې لازم اقدامات ترسره کړي.
د ریاست الوزراء اداري مرستیال د کندز د سیمه ییزو مسئولینو د کړنو د ستایلو ترڅنګ د یادو علماؤ د وړاندیزونو په اړه وویل، اسلامي امارت به خپلو امکاناتو ته په پام ورته رسیدګي وکړي.#

ارگ نامه

امارت اسلامی افغانستان
مقام ریاست الوزراء
ریاست عمومی دفتر
معاونیت ارتباطات عامه و استراتیژیک
مرکز اطلاعات و رسانه‌های حکومت

صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست د اوزبیکستان له ولسمشر سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست محترم الحاج نورالدین عزیزي د پانکوني څلورم نړیوال کنفرانس په څنډه کې د اوزبیکستان له ولسمشر شوکت میرضیایوف سره ولیدل او د دوه اړخیزو همکاریو پر پراخولو پې بحث او خبرې کړې دي.

دې وزارت په یوه رسنیزه خبرپاڼه کې څرګنده کړې، چې دواړو خواوو د خبرو پر مهال پر سوداګرۍ، اقتصاد، ټرانسپورټ، لوژستیک، بریښنا، کرنې او کانونو بحث او خبرې کړې دي.

دغه راز د پانکوني څلورم نړیوال کنفرانس په څنډه کې محترم الحاج نورالدین عزیزي د اوزبیکستان د پانکوني، صنایعو او سوداګرۍ له وزیر لذیز قدرتوف سره لیدلې او د ترجیحي سوداګرۍ او اقتصادي همکارۍ په اړه پې دوه اړین سندونه لاسلیک کړي دي. د اوزبیکستان ولسمشر د تاشکند پانکوني څلورم نړیوال کنفرانس ته د وینا پر مهال د افغانستان د سولهییز او دوامداره پرمختک د ملاتړ پر اړتیا ټینګار کړی او غوښتنه پې وشوه، چې دا موضوع د نړیوالې اجنډا په لومړیتوبونو کې ونیول شي. هغه همدارنګه له اسلامي امارت سره د تعامل او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د انزوا د مخنیوي پر اړتیا ټینګار کړی دی.#

امضای توافق نامه‌ها میان وزارت های کار و امور اجتماعی و مخابرات و تکنالوژی معلوماتی

محترم ملا عبدالمنان عمری، وزیر کار و امور اجتماعی و محترم مولوی نجیب‌الله حیات حقانی، وزیر مخابرات و تکنالوژی معلوماتی، توافق نامه‌های به‌منظور ایجاد و فعال‌سازی سیستم‌های مدیریت اسناد و سیستم وظیفهٔ آسان امضا کردند.

دفتر مطبوعاتی وزارت کار و امور اجتماعی امروز با نشر این خبر گفته است که در این نشست، وزیر کار و امور اجتماعی گفت:سیستم وظیفهٔ آسان خواهد توانست روند استخدام نیروی با استعداد را ساده‌تر سازد و در اجرای سروی‌های دقیق کاری مؤثر واقع شود. قابل ذکر است که سیستم ایجادشدهٔ مدیریت اسناد در وزارت کار و امور اجتماعی، روند ثبت، انتقال و پی‌گیری اسناد را به‌صورت مؤثر، امن و شفاف تنظیم خواهد کرد. از این طریق، مراجعین می‌توانند به‌صورت آنلاین اسناد خود و وضعیت نهایی آن‌ها را مشاهده کنند که در کدام بخش تحت کار قرار دارند.

همچنین، از طریق سیستم وظیفهٔ آسان، نهادهای امارتی و سکتور خصوصی در سراسر کشور قادر خواهند بود بست‌های خالی خود را اعلان کنند. مدیریت کارمندان، جستجوی وظایف، خلاصهٔ سوانح و مدیریت پیشنهادات، از دیگر بخش‌های مهم این سیستم به شمار می رود.#

د اروپایي ټولنې د بشري مرستو یوه الوتکه کابل ته راورسېده

اروپایي ټولنې خبر ورکړی چې له سل ټنه بشري مرستو بار یوه الوتکه پې نن سهار کابل ته رسېدلې ده. په افغانستان کې د اروپایي ټولنې استازولې پر خپله فېسبوک‌پاڼه لیکلي چې د دې اتحادیې سل ټنه اړینه بشري مرسته نن سهار په یوه الوتکه کې کابل ته راورسېده. یادې ادارې دا نه دي ویلي چې په دغو بشري مرستو کې کوم توکي شامل دي. سرچینې زیاته کړې چې له ۲۰۲۱ کال کې راهیسې د دې اتحادیې له خوا افغانستان ته د هوا له لارې ۲۱۵۰ ټنه بشري مرستې راوړل شوې دي.#

بسم الله الرحمن الرحيم

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د جهادي مدارسو د مسئولینو لپاره په جوړ شوي یوه...

...عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی په کندهار کې د جهادي مدارسو د استادانو، مهتممینو او ناظمانو لپاره په جوړ شوي یوه ورځني روزنیز او اصلاحي سیمینار کې چې د لوړو زده کړو سرپرست وزیر، د جهادي مدارسو عمومي رئیس، رئیسانو، استادانو، مهتممینو او ناظمانو پکې برخه اخیستې وه، ګډون او وینا وکړه.

سیمینار د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شو، ورپسې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د سیمینار ګډونوالو ته لازم هدایات او وینا وکړه.

هغه د ټولو مسؤلینو د خدمتونه ستاینه وکړه او د سیمینار ګډونوالو ته پې مهمې توصیې وکړې، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی زیاته کړه، چې علماوو ته الله جل جلاله په مخلوقاتو کې ډیر لوړ مقام، عزت او شرف ورکړی دی او علماء کرام پې د انبیاء کرامو وروسته د دین د حفاظت لپاره مقرر کړي دي.

هغه وویل چې علماء کرام یواځې د انفرادي عباداتو د ادا کولو لپاره نه دي، بلکې د انبیاء علیهم السلام وروسته د الله تعالی جل جلاله له لوري د اجتماعي عباداتو په ادا او په سیاست کولو هم مکلف دي، علماء به د امت اجتماعي او سیاسي مسائل پر مخ وړي، جهاد به کوي، شریعت به نافذوي، د خلکو ترمنځ به قضاء کوي او د هغو منازعات به حل کوي.

عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی وویل چې علماء کرامو په هره زمانه کې په ډیرو سختو شرائطو کې د منبر، فتوا، جهاد، د تعلیم او تعلم، د دعوت او نصیحت له لارو د دین ساتنه او حفاظت کړی دی، مجاهدین پې تربیه کړي دي، خلک پې جهاد کولو ته هڅولي دي او په دې لاره کې پې ډیري قربانۍ ورکړي دي.

عالیقدر امیرالمؤمنین د عمومي عفوي د فرمان په عملي کولو کې د علماء کرامو رول وستایه.

هغه د علم پر اهمیت او ارزښت هم رڼا واچوله او وې ویل چې د خلکو اصلاح په علم سره ده او د شریعت اقامه د دیني علومو په احیا سره راځي، که د دیني علومو احیا نه وي نو په خلکو کې د دین اقامه بیا نه راځي.

جناب عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی، د خپلې وینا په اخیر کې د جهادي مدارسو استادانو ته وویل چې د طالبانو او شاګردانو په تعلیم او تربیه او د دوی د عقیدې، فکر او ذهن جوړولو کې زیات کوښښ وکړئ، د طالبانو او شاګردانو ظاهري او باطني روزنې ته ښه توجه وکړئ، طالبان او شاګردان د پلار، مور، استاد او نورو په حقوقو وپوهوئ، له نورو ادارو سره همکاري وکړئ او خپلو منځو کې یو پرېل ډیر اعتماد ولرئ، پې اعتمادي سبب د پې اطاعتي کیږي او پې اطاعتي سبب د اختلافاتو کیږي.

وروسته سیمینار نظام او خلکو ته د عالیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی لخوا د دعاپې په لوستلو سره پای ته ورسېد.#

په کندهار کې له ۱۳ زره کیلوګرامه زیات نشه‌یي توکي وسوځول شول

د کندهار د امنې قوماندانۍ د نشه‌یي توکو پر ضد د مبارزې ریاست وایي، په دې ولایت کې ټولټال ۱۳،۰۱۸ کیلو ګرامه ببلابېل ډول نشه‌یي توکي وسوځول شول.

مسئولینو زیاته کړه، چې په سوځول شویو توکو کې تاریاک، هیروین، چرس، الکولي مشروبات، ټابلیټ K کولې، او له نشه‌یي موادو سره ګډ کیمیاوي مواد شامل وو. د دوی په وینا، دا توکي د دامان ولسوالۍ په یوه لیرې سیمه کې له منځه وړل شوي دي. په ورته وخت کې، د کندهار د امنې قوماندانۍ ویاند ملا اسدالله جمشید وویل، چې یوازې د ټهرې میاشتې په ترڅ کې په کندهار کې دنشه‌یي توکو پر ضد ۲۵۲ عملیات ترسره شوي دي. نومورې زیاته کړه، چې په دغو عملیاتو کې زرګونه کیلوګرامه نشه‌یي توکي، لکه تاریاک، چرس او هیروین نیول شوي او د نشه‌یي توکو په تراو ۵۲ تنه هم نیول شوي، چې دوسیې پې عدلي او قضایي ادارو ته سپارل شوې دي. جمشید وویل، چې د همدې مودې په ترڅ کې ۴۳۲ تنه روږدي کسان هم راټول شوي او د درملنې لپاره اړوندو مرکزونو ته سپارل شوي دي.#

د کابینې دوه ویشتمې غونډې د سیندونو د حریم ټاکلو او سیلانیانو ته د چوپړتیاوو...

...د افغانستان اسلامي امارت د کابینې دوه ویشتمه غونډه د محترم رئیس الوزراء الحاج ملا محمدحسن اخند په مشرۍ ترسره شوه.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه، د هیواد په مهمو اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي مسائلو په کې بحث او پریکړې وشوې.

غونډه کې د سیندونو د حریم، سرسبزۍ او دې سیمو ته د ورتلونکو سیلانیانو لپاره د خدمتونو وړاندې کولو اړوند بحث ترسره شو چې ټاکلي پلاوي ته دنده وسپارل شوه؛ ترڅو اړوند ادارات مکلف کړي چې په خپله برخه کې لازم اقدامات ترسره کړي.

د یادونې وړ ده چې د کابینې یاده غونډه د کنبو موضوعاتو په اړه له تفصیلي بحث او پریکړو وروسته د خیر دعاء سره پایته ورسېده.#

متقي: اروپا کې د میشتو افغانانو ستونزو ته د رسېدنې لپاره دې د افغان حکومت لاسرسی ممکن شي

د بهرنیو چارو وزارت سرپرست د یوناما له مشرې غوښتې چې په خپلو راپورونو کې پر واقعیتونو تمرکز وکړي او زیاته کړي پې ده چې په اروپا کې د میشتو افغانانو ستونزو ته د رسېدنې لپاره دې د افغان حکومت لاسرسی ممکن شي.

د بهرنیو چارو وزارت خبرپاڼه کې راغلي، چې د دغه وزارت سرپرست مولوي امیرخان متقي د ملګرو ملتونو د سرمنشي له ځانګړې استازې او په افغانستان کې د یوناما له مشرې اغلې روزا اوتونبایوا سره وکتل.

خبرپاڼه کې راغلي، په دې کتنه کې دواړو لورو د راستنېدونکو کډوالو پر اړتیاوو، د نړۍ په کوټ کوټ کې د میشتو افغانانو پر ستونزو، په هېواد کې د راغلو پرمختکونو، د خصوصي سکټور پر ودې، د پانکوني پر جلب او یو شمېر نورو موضوعاتو خبرې وکړې.

متقي ویلي، په اروپا کې د میشتو افغانانو ستونزو ته دې د افغان حکومت لاسرسی ممکن شي ځو د قونسلي خدماتو په وړاندې کولو سره د هغوی حقوقي موضوعات حل او له بشري حقونو پې دفاع وشي.

متقي دغه راز له یوناما غوښتې چې په خپلو راپورونو کې پر واقعیتونو تمرکز وکړي ځو په هېواد کې شوي پرمختکونو او هر اړخیز ثبات له نړۍوالو سره شریک شي.

اوتونبایوا هم ویلي چې ملګري ملتونه د افغانانو ترڅنګ ولاړ دي.

هغې زیاته کړې، یوناما هڅه کوي چې راستنېدونکو کډوالو ته د ژوند اسانتیاوو ترڅنګ په افغانستان کې د کاري فرصتونو رامنځته کېدو لپاره د پانکوني جلب ته زمینه برابره کړي.

د هغې په خبره چې له افغانستان سره د نړۍوالو مرستې د بشري برخې ترڅنګ انکشافي برخو ته هم غځېدلې دي.

د یوناما مشرې ژمنه کړې چې د ملګرو ملتونو او امنیت شورا په راتلونکو غونډو کې به له نړۍوالو سره په افغانستان کې د شوو پرمختکونو او فرصتونو په تراو معلومات شریکوي او د افغان حکومت پیغامونه به لېږدوي.

بهرنیو چارو وزارت لیکلي، د ناسټې په پای کې د افغانستان اسلامي امارت او یوناما ترمنځ پر نږدې او کډ کار ټینګار وشو.#